بسم الله الرحمن الرحيم

## روژه؛ د فتحو او بریاوو میاشت

ځلورمه برخه

## د مکې فتحه – پاتې برخه

**الحمد لله الذي فتح أبواب الجنان لعباده الصائمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، المبعوث رحمة للعالمين وآله وصحبه الطيبين الطاهرين، ومن تبعه وسار على دربه، واهتدى بهديه واستن بسنته، ودعا بدعوته إلى يوم الدين، أما بعد:**

د هغه الله سبحانه وتعالی ثنا او ستاينه چې د روژتيانو لپاره يې د جنتونو دروازې پرانيستې دي؛ پر هغه غوره نبي او رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه پر کورنۍ او اصحابو رضوان الله عليهم اجمعين دې سلام او درود وي چې د ټولې نړۍ لپاره رحمت رالېږل شوی؛ پر هغو کسانو دې سلام او درود وي، چې د هغه صلی الله عليه وسلم پيروي يې کړې او پر لاره يې روان شوي، د هغه په هدايت يې سمه لار موندلې او د قيامت تر ورځې يې د هغه په بلنه دعوت کړی وي. اما بعد:

**د ايمان ورونو!**

رسول الله ﷺ د مکې په لار کې خپل کاکا، عباس وليد چې له کورنۍ سره يې مدينې ته د هجرت په نيت روان و. کله چې هغه ﷺ «مرالظهران» ته ورسيد، هلته يې خپل پوځيان مېشت کړل او هر مسلمان ته يې د اور بلولو امر وکړ چې د پوځ ډېروالی د قريشو پر روان اغېز وکړي او له جنګ پرته تسليم شي!

په دره کې لسګونه زره لمبې بلې شوې، چې ليدو يې په زړونو کې وېره پيدا کوله او قريش پر هېڅ نه پوهېدل. يوازې درې مشران يې؛ ابوسفيان بن حرب، بديل بن ورقاء او حکيم بن حزام راوتلي وو چې ځانونه خبر کړي. نو د اور پر خوا روان شول، خو څه يې چې وليدل، حيران يې کړل. مسلمانان پر خپل پلان روان وو، شاوخوا يې کسان تيت کړي وو څو قريش اړ شي چې له تسليمدو پرته بله لار نشته. هغوی د قريشو سړي وموندل، ويې نيول او رسول الله ﷺ ته يې راوستل.

د رسول الله ﷺ کاکا، عباس د مسلمانانو له پوځي غونډ څخه د رسول الله ﷺ پر اس سپور وتلی و؛ ابو سفيان او د هغه ملګري يې وليدل او اعلان يې وکړ چې د مسلمانانو په سيمه کې دي؛ خو ابوسفيان ورپسې راغئ او له رسول الله ﷺ سره يې د ليدو غوښتنه وکړه. دا د عباس لپاره يو فرصت و، د قريشو مشرانو ته يې قناعت ورکړ

چې نور اسلام د دوی او د دوی د قوم لپاره تر هرڅه غوره دی او د دوی کینه به قریشو ته هېڅ گټه ونه رسوي. کله یې چې رسول الله ﷺ ولید، ورته ویې ویل: هلاک شې اې ابوسفیانه! آیا نه پوهېږې، چې له الله سبحانه وتعالی پرته بل څوک د عبادت وړ نه دی!؟ آیا نه پوهېږې چې زه د الله سبحانه وتعالی رسول یم!؟ ابوسفیان وویل: زما مور او پلار دې له تا قربان شي، ته ډېر حلیم، کریم او خپلوي‌پالونکی یې! خو د دغه په اړه لا تراوسه زما په نفس کې یو څه شته. عباس ورته وویل: هلاک شې، اسلام راوړه او شاهدي ورکړه چې له الله سبحانه وتعالی پرته بل د عبادت وړ نشته او رسول الله ﷺ د الله سبحانه وتعالی رسول دی. په دې وخت کې ابوسفیان ته ښکاره شوه چې پر حق شهادت د خلاصون یوازینۍ لار ده، نو اسلام یې راووړ. عباس وویل: یا رسول الله! ابوسفیان فخر خوښوي، هغه ته یو څه ورکړه، رسول الله ﷺ وویل: هو، څوک چې د ابوسفیان کورته ننوځي، هغه خوندي دی، چا چې خپله دروازه بنده کړه، هغه هم خوندي دی، څوک چې مسجد ته ننوتل هغوی هم خوندي دي. رسول الله ﷺ ابوسفیان ته دغه امتیاز ورکړ، ځکه هغه فخر خوښاوه، چې نور نه چا ته ضرر ورسوي او نه خپله ضرر ووینې.

**د ایمان وروښو!**

کله چې ابو سفیان د بیرته تگ غوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ عباس ته وویل: د درې په تنگ ځای کې یې ودروه؛ یعنې کله چې دره پای ته رسیږي، هلته یوه تنگه لاره ده، چې له غره څخه راوځي، ترڅو د الله سبحانه وتعالی پوځونه تېر شي او ویې ویني. په دغه کار یې ستره پایله لاسته راوړه او هر ځل به چې هره قبیله تېرېده، نو له عباس څخه به یې د هغې په اړه پوښتل او عباس به یې نوم ورته اخیست. هغه به ویل: دوی چا راوستي دي؟ خو کله چې رسول الله ﷺ په زرغونه کتیبه کې له انصارو او مهاجرینو سره تېرېده، نو یواځې د اوسپنو رڼا یې معلومېده، ویې ویل سبحان الله عباسه! دغه څوک دي؟ ورته ویې ویل: دا رسول الله ﷺ دی؛ مهاجرو او انصار ورسره دي. ابوسفیان، چې په زړه کې چې د مقاومت هېڅ فکر نه و پاتې، ویې ویل: له دغو سره هېڅوک د مقاومت ځواک نه لري. والله ابوالفضله د وراره ملک دې ډېر ستر او پراخ شوی. عباس ورته وویل: ابوسفیانه، دغه نبوت دی. ابوسفیان وویل: ډېر ښه!

بیا عباس په دغه مناسب وخت کې وویل: ابوسفیانه، خپل قوم ته دې هڅه وکړه؛ یعنې قوم ته دې ورشه. نو ابوسفیان په بیړه او حیرانۍ مکې ته دننه شو او په لوړ غږ یې یې ویل: قریشو! محمد له داسې پوځ سره راغلی چې تاسې یې هېڅ د مقابلې وړتیا نه لرئ؛ څوک چې د ابوسفیان کورته ننوت، هغه خوندي دی.

د هغه مېرمن د عتبه لور هند ځیره شوه، ابو سفیان یې له گرېوانه ونیو او ویې ښکانځه، خو هغه یې ښکنځل ونه زغمل، بلکې خپل ټول قوم ته یې وویل: هلاک شئ! په خپلو ځانونو مه تېروځئ، تاسو ته داسې یو پوځ راغلی چې د مقابلې وړتیا یې نه لرئ، څوک چې د ابوسفیان کور ته لاړ شي هغه خوندي دی. قریشو وویل: هلاک

شې! موږ تول ستا په کور کې ځايږو!؟ بيا ابوسفيان وويل: چا چې پر ځان پسې خپله دروازه بنده کړه، هغه هم خوندي دی. بيا يې وويل څوک چې مسجد ته ننوځي، هغه هم خوندي دی. نو خپلو کورونو او يا مسجد ته بيړه وکړئ. خو ځينو قريشو پر جنګ ټينګار کاوه.

**او په پای کې، اې د ايمان ورونو!**

الله سبحانه وتعالی خو دې وکړي چې د روژې مياشتې په دغو غوره ورځو کې زموږ سترګې د خلافت دولت په ليدو سره خوږې کړي، موږ خپل وفاداره او اخلاصمن سرتېري وګرځوي؛ د اسلامي امت لپاره د عزت، لويی او مجد ورځې بيرته راوګرځوي او په ځمکه کې هر څه ورته چمتو کړي. الله سبحانه وتعالی خو دې زموږ دغه هيلې ژر زموږ پر لاسونو د روژې مبارکه مياشت کې پوره کړي او الله سبحانه وتعالی پر دغو ټولو چارو واکمن، ځواکمن او ولي ذات دی.

**اې الله سبحانه وتعالی!** زموږ سترګې د خلافت دولت په تاسيس سره خوږې کړه او خپل اخلاصمن او وفادار سرتېري مو وګرځوه!

آمين

* * *

**استاد محمد أحمد النادي**